مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی

۲۰۲۶/۰۴/۲۰

# که نه وینبړی نو به ورکیږی

د طالبانو نظام هیواد ورځ په ورځ د تیارې لور ته بیایی. ما د هغوی د حکومت په عنوان څلور لیکونه ولیکل او خپل عرایض مي ورته وړاندي کړل. خو دا هغه وخت وو چي ما هنوز هم هغوی ته د افغانستان د افغاني واکمنانو په سترګه کتل.

خو کله چي پاکستان د کابل په زړه کي د امید پر روغتون بمباري وکړه او څه باندي ۴۵۰ تنه مظلومان یې شهیدان کړل. او د طالبانو داخله وزیر سراج الدین حقاني د هغو شهیدانو د ډله ایزو ښخولو په مراسمو کي پاکستان ته بیا هم د ورور هیواد خطاب وکړ او دا یې لا هم وویل چي موږ له پاکستان سره د انتقام جذبه نه پالو نو تر هغه وروسته ما دوی ته د افغانانو په سترګه نه بلکه د خپل غلیم هیواد د ورونو، حتی غلامانو، په سترګه کتلي دي.

تاسي ټول به خبر یاست چي د پاکستان مقاماتو د نورستان د برګ متال محاصرې ته څه باندي یوه میاشت دوام ورکړ او د افغانستان له لوري هیڅ دولتي مقام اعتراض قدر ونه کړ او وروسته پاکستانی مقاماتو د خپل هیواد د امنیت د یقیني کولو په خاطر د نورستان له اولسي مشرانو سره د پښتونخوا په سیمه کي وکتل او موافقه یې ورسره لاسلیک کړه. په هغه غونډه کي د افغانستان له لوري هیڅ دولتي مقام برخه نه درلوده. دا د افغانستان پر ملي حاکمیت باندي ښکاره تیری وو او د افغانستان له لوري چا د پاکستان پر دې عمل باندي نه یوازي اعتراض قدر ونه کړ بلکه اشاره یې هم ورته ونه کړه.

څو ورځي مخکي مي په فیسبوک کي د یوه پاکستاني جنرال خبرو ته غوږ نیولی وو. هغه په زغرده ویل چي پاکستان د خپل امنیت د خوندي کولو لپاره د افغانستان په خاوره کي دننه لس کیلومیتره حایلي سیمي ته اړتیا لري او دا سیمه باید ایجاد سي.

ویده اولسه! تاسي د لوی افغانستان ناري وهی. پنجابیان د لوی پاکستان د جوړولو نقشي جوړوي. لوی پاکستان به څکه جوړیږي چي په ټول افغانستان کي داسي قوت نسته چي د پنجاب د شومو نقشو د عملي کېدلو مخه ونیسي. په افغانستان کي د پنجاب د غلامانو د حکومت دوام د یوې لویې ملي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

غميزي پيلامه ده. اوس حاضر هم ډېر څه له لاسه وتلي دي خو په نيژدې راتلونکي کي به هرڅه له لاسه ووزي. که د دين اودولت انحصار د ملا له لاسه ونه ايستل سي نو د هر ډول ناوړه پېښنو منتظر اوسی.



په افغان جرمن آنلاين پورتال کی د جهانی صاحب آرشيف


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ